# ښکلې او ځناور



ډير کلونه پخوا ، يو سوداګر خپله ټوله شتمني له لاسه ورکړه خو هغه څه چې سوداګر ته پاتې
وو، هغه په کلي کې يو وړوکی کور ؤ. سوداګر له خپلو دريو لورګانو سره نوموړي کور ته لاړ او په

**ژباړونکی : جاويد همدرد**

کلي کې يې ژوند پيل کړ. د سوداګر دوه مشرانې لورګانې د کلي له ژوند څخه خوشحاله نه وې او هره ورځ به يې سر ټکاوه.



خو کوچنۍ لور به يې په ډيرې خوشحالۍ سره د کور کارونه کول او له خپل پلار سره به يې د ترکارۍ په کرونده کې مرسته کوله . کوچنۍ لور يې په سوداګر باندې ډيره ګرانه وه او هغې ته به يې له نازه (ښکلې) ويل.



يوه ورځ نوموړی سوداګر د سوداګرۍ لپاره بل ځای ته روان شو. سوداګر له خپلو لورګانو څخه وپوښتل : تاسو ته څه سوغاتونه راوړم؟

دواړو مشرانو خويندو د قيمتي ګاڼو غوښتنه وکړه خو ښکلې مسکۍ شوه او ويې ويل : ما ته يو څو سپين ګلونه راوړه.



سوداګر ژمنه وکړه چې خپلو لورګانو ته به د هغوی د خوښې سوغاتونه راوړي . د سوداګريزو چارو په خلاصولو، د يوڅه مودې څخه وروسته سوداګر د خپل کور په لور روان شو، خو چې هوا تياره شوه نو سوداګر په ځنګله کې خپله لاره ورکه کړه. څو شيبې وروسته ، سوداګر يوې ماڼۍ ته ورسيد او چې ماڼۍ ته ورنژدې شو نو ويې ليدل چې دماڼۍ دروازه خلاصه وه.





ورسته تر دې چې خپل آس يې په موګي وتاړه او واښه يې ورته واچول، نو سوداګر ماڼۍ ته ننووت . داسې نه ښکاريده چې هلته به څوک وي خو سوداګر يو ميز  وموند چې ډول ډول خواړه پرې ايښودی  وو. سوداګر په دې تمه ؤ چې څوک به راشي خو هيڅوک هم را نه غلل نو

سوداګر هم ټول خواړه وخوړل . تر دې وروسته ، سوداګر د خوب یو هوسا ځای وموند او هلته بیده شو.



سبا سهار سوداګر په ډیره حیرانتیا سره د خپلو جامو پر ځای نوې جامې وموندلې . سوداګر دا نوې جامې واغوستلې او هغې خونې ته لاړ چې تیره شپه یې هلته ډوډی خوړلې وه . سباناری ورته تیار شوی ؤ. سوداګر د سباناري د خوړلو په وخت کې له خپل ځان سره وویل : هیڅ باور مې نه کیږي چې زه دې دومره طالعمند اوسم.



سوداګر چې د خپل آس په لور روان شو نو د سپینو ګلونو بوټی یې ولیدلې او له ښکلې سره یې چې کومه ژمنه کړې وه، هغه ور په یاد شوه . سوداګر چې ګلونو ته ورنژدې شو او غوښتل یې چې یو ګل را وشکوي نو یو بورنوونکی غم یې واورید (هغه زما ګلونه دي!) سوداګر چې شاته وکتل نو یو غټ ځناور ولاړ ؤ او سوداګر ته یې برګ برګ کتل.



ښناور په ډېرې غوصې سره وويل : ما درته خواړه، د خوب ځای او نوې جامې درکړې ، اوس ته زما ګلونه هم پټوې! ستا سزا مرګ دی!
سوداګر ډېر وويريد او په ډېرې عاجزۍ سره يې وويل: خير دی ما مه وژنه، لور مې را څخه دا ګلونه غوښتي وو.



د ښناور رحم زيات نه ؤ خو سوداګر ته يې په خير خير سره وکتل او ويې ويل: يواځې يو شی تا ژغورلی شي او هغه دا چې ته بايد ژمنه وکړي چې يوه مياشت وروسته ماته هغه ژوندی شی راولې چې کورته د رسيدو په مهال يې تر ټولو دمخه ووينې.



ويريدلی سوداګر اړ ؤ چې د ښناور شرط ومني.

سوداګر بې له ځنډه د کور په لور روان شو. په لومړي سر کې هغه ډېره خوشحاله ؤ چې د ښناور له منګولو څخه خلاص شوی ؤ. ورو ورو سوداګر په سوچونو کې ډوب شو چې څوك يا کوم شی به تر ټولو د مخه ووينې – هغه به يې پيشو وي يا به يې سپی وي؟ او بيا يې سوچ وکړ چې ښايي تر هر څه دمخه خپله لور (ښکلې) ووينې!

او همداسې هم وشول.

کله چې سوداګر په ډيرې خواشينی سره ښکلې له هغې ژمنې څخه خبره کړه چې له ښناور سره يې کړې وه نو هغې وويل چې پلار يې بايد خپله ژمنه پوره کړي . کله چې څلور اونی تيرې شوې نو سوداګر له خپلې ګرانې لور سره د مانی په لور روان شو.



په مانۍ کې یو میز تیار کړل شوی ؤ او د دوی په تمه ؤ. خو ښکلې او پلار یې د ډیرې خواشینۍ له لاسه هیڅ شی هم و نخوړل . په ناڅاپي توګه، د پښو آواز تر غوږ شو او ځناور کوټې ته راننووت. ځناور وپوښتل: آیا د همدې لور دې سپین ګلان خوښیږي؟



سوداګر ځواب ورکړ چې هو، همدې لور مې زه دې ته اړ ویستم تر څو زه خپله ژمنه پوره کړم .
ځناور وویل : زه به ستا لور د ګل په شان وساتم خو ته باید اوس لاړ شې.



سوداګر چې روان شو نو ښکلې وژړل خو په خونه کې یوه جادویي هنداره ولاړه وه او ښکلې ته یې وویل: اې ښکلې! خپلې اوښکې وچې کړه، اوښکې مه تویوه، ماته په ځیر ځیره سره وګوره – هر هغه څه چې دې په زړه کې وي، هغه به ووینې . ښکلې چې د هندارې دا خبرې واورېدې نو زړه یې ډاډه شو.

APN Stories for Kids



څو اونۍ چې تیرې شوې نو ښکلې په دې وپوهیدله چې دا ځناور په رښتیا هم خطرناك نه ؤ. ځناور به تل مهربان ؤ او د وخت په تیریدو سره ځناور د ښکلې ملګرې شو.

يوه ورځ ښاور له ښکلې څخه وپوښتل: له ماسره واده کوې؟ خو ښکلې په ځواب کې وويل: نه! ددې سره سره چې ښاور يې خوښيده خو ښکلې هيڅکله هم نشو کلای چې له يو ښاور سره واده وکړي!



يوه ورځ سهار ښکلې هنداري ته ځير شوه او دخپل پلار د ليدلو هيله يې وکړه. هغې وليدل چې پلار يې ناروغ ؤ، ديره حيرانه شوه .

ښکلې چې له ښاور څخه د کور ته تګ اجازه وغوښتله نو ښاور ډير خواشينی شو. ښکلې ژمنه وکړه: زه په ژر تر ژره بيرته راشم.

ښاور ښکلې ته يوه کوټه ورکړه او ويې ويل: کله چې غواړې بيرته راشې نو دا ګوته دې پر ميز باندې کيږده.
د سترګو په رپ سره ښکلې کور ته ورسيده او چې پلار يې هغه وليدله نو مخ په رغيدو شو. اونی په ډيرې چټکتيا سره تيرې شوې او بيا يو شپه ښکلې ښاور په خوب وليد چې د ګلانو په منځ کې ناروغ او کمزورى پروت دی. ښاور غوښتل چې له لورې څخه خپل ځان ووژني ځکله د ښکلې په بيلتون کې يې ژوند ګران ؤ.



کله چې ښکلې راويښه شوه نو په دې وپوهيدله چې څه بايد وکړي. ښکلې هغه ګوته په خپل ميز باندې کيښودله او يوه شيبه وروسته د ښاور څنګ ته ورسيدله . ښکلې وويل: اې ښاوره! خپل ځان مه وژنه. زه تا سره مينه کوم او له تا سره به واده وکړم!.



نا ببره ژړا خپره شوه او په باغ کې موسيقي پيل شوه. په هغه ځای کې چې ښاور پروت ؤ يو ښکلی او ځوان شهزاده ودريد.



شهزاده وویل: اې ښکلې ، تا زه  آزاد کړم، ډیر کلونه پخوا، یوې کوډګرې په ما کوډې وکړې او زه یې ځناور کړم. یوازې او یوازې د یوې ښکلې پیغلې مینې هغه کوډې ماتولی شوې اې ښکلې! ته هغه ښکلې پیغله یې.



ښکلې او شهزاده په ډیرې خوشحالۍ سره واده وکړ او د ښکلې پلار هم ماڼۍ ته نژدې میشت شو او هلته یې ژوند پیل کړ. له هغه وروسته ، دوی ټولو په ګډه سره د تل لپاره په ډیرې خوشحالۍ سره ژوند کاوه.



**د کیسی لاربنود**

لیکوونکی : ګالبرت سوزانی (Gabrielle-Suzanne Barbot De Villeneuve).

انګریزی نوم : Beauty and the Beast

ډول : خیالی افسانه.

لومړنی چاپ / نشر : ۱۷۴۰ (فرانسه).

ژباړونکی : جاوید همدرد (پښتو).

نیټه : قوس ، ۱۳۹۲.